# جنګي سپي


Ketabton.com

لیکوال : محب الله زغم

Downloaded from: www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

## د کتاب پېژندنه:


| | |
|---|---|
| د کتاب نوم: | جنګي سپی |
| لیکوال: | محب الله زغم |
| انځورګر: | الحاج عبدالهادی تپاند |
| اوډون: | حفیظ الله یاور |
| د چاپ کال: | ۱۳۸۷ |

www.Ketabtoon.net


## ډالی:

خپلو زامنو محبوب الله، روهین او ربنتین ته یې په مینه ډالۍ کوم

Downloaded from: www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

جنګي سپی د خپل کور مخې ته ولاړ و. د هغه زنځیر په ونې پورې تړلی و. مخې ته يې په يوه لوی غاب کې يوڅه غوښې او هډوکي پراته وو. څنګ ته يې د تالي په تل کې شيدې پاتې وې. يوه کوچنۍ سپۍ تالي ته ورنژدې شوه. خپله ژبه يې راايستلې وه. جنګي سپي خپله لويه خوله خلاصه کړه ، تېرې داړې يې ښکاره شوې. هغه وغرېده: څه کوې ؟



Downloaded from: www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

سپۍ لکۍ و ښوروله او ويې ويل : ورېږ يمه ، شيدو ته مې زړه کيږي.

جنګي سپي وويل : ځغله ، مفت خوره. خاوند خو مو هسې چا ته شيدې نه ورکوي.

ورې سپۍ په حيرانۍ وويل : نو څنګه يې ورکوي ؟

جنګي سپي خپله پلنه غاړه هسکه کړه او په ډډ غږ يې وويل : زه خويې همداسې ګټم ، همداسې يې څتم. ها بله ورځ مې په جنګ کې ورته بلا ډېرې پيسې وګټلې. ته خو يې هسې د خپلې لور د ساتنې لپاره راوستې يې که نه ته خو هيڅ په درد نه لګيږې.



Downloaded from: www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

سپی ورته زاری وکړې خو هغه ورته شیدې ورنکړې.

یوه ورځ سهار د هغوی ښښتن دجنګي سپي زنځیر خلاص کړ او سراچې موټر ته یې پورته کړ. هغه په موسکا سپی ته وویل: دا دی ما بیا جنګ ته بیایي ، زه به بیا ورته پیسې وګټم. تا غوندې مفت خوره خو نه یم.

سپی د شیدو تالي ته وکتل او په زړه کې یې وویل چې کاشکې زه هم غټه وای او په جنګ کې مې پیسې ګټلای.



Downloaded from: www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

غرمې مهال موټر انګړ ته راننوت. سپی یې راکښته کړ. د هغه ورمېږ په وینو سور و. سر یې ټیټ نیولی و. لنډه لکۍ یې ځړېدلې وه. سترګې یې سرې او تنګې وې. ژبه یې راوتلې وه او ژر ژر یې سا کښله.

هغه یې په ونې پورې وتاړه. خاوند یې کوټې ته لاړ. د واسلینو ډبلی یې راوړ. د سپي د غاړې ټپونه یې پرېمینځل او بیا یې په واسلینو غوړ کړل.



Downloaded from: www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

روسته سپي هڅه وکړه چې خپل ټپونه وڅټي ځکه چې د هغه په ناړو کې داسې مواد شته چې زخم رغوي او درد یې کراروي. خو چې هر څه یې کول ژبه یې ټپونو ته نه رسېدله. ډنگره سپۍ لرې ولاړه وه او ورته کتل یې.

د وړې سپۍ زړه پرې وسو. ورنژدې شوه. په وېرېدلي غږ یې وویل : زه یې درته وڅټم ؟

سپي چې له درده تاوېده راتاوېده کېناست او ویې ویل: ډېر خوږېږي.

سپۍ د هغه ټپونه تر هغې وڅټل چې سپی ویده شو.



Downloaded from: www.ketabton.com


(c) ketabton.com: The Digital Library

مازدیگر چې هغه راویښ شو مخې ته یې د شیدو ډک تالی ایښی و. ژبه یې په شیدو کې ډوبه کړه خو بېرته یې سر پورته کړ. سپي ته یې ورنارې کړې: راشه شیدې وڅښه.

سپي وویل : نه ، دا خو ستا برخه ده. تا به پیسې ګټلې وي.

سپي وویل : ما جنګ بایلود. نن مې پیسې نه دي ګټلې. خو ستا ملګرتیا مې وګټله. نور به زه او ته دواړه په یوه کاسه کې ډوډۍ خورو.

څو شېبې وروسته دوې ژبې د شیدو په تالي کې غوټه وې ، یوه د سپي او بله د سپي.



Downloaded from: www.ketabton.com

**Get more e-books from www.ketabton.com**
**Ketabton.com: The Digital Library**